مطيع الله اباسين ۲۰۱۰/۸/۱۰

# افغانستان د تجزيې په بريد د ژغورلو شونتيا لري اوکه نه؟

په افغانستان کې د امريکا ستراتيژي له نا اټکل شوو خنډونو سره مخامخ شوې ده. په سيمه کې د مخالفتونو د دفع کولو لپاره دغه هېواد مجبوره شوی، چې هم په سياسي اوهم نظامي ډګر کې څه نوې کړښې تعقيب کړي. دوی غواړي په دې توګه چلېنجونه په چلېنجونو مات کړای شي خو پخپله امريکايي ولس د امريکا په ستراتيژۍ کې د نا اټکله بدلونونو او سازشونو له راتګه ناخوښ ښکاري. کارپوهان وايي د واشنګټن په کوڅو کې ولسي غبرګون به هم د هغه هېواد په راتلونکو ټاکنو کې د ډيموکراتانو په ونډه او هم په افغانستان کې د امريکا د جنګ په جبهه پوره اغېزه پرې باسي. خو تردې ټولو وړاندې امريکا ته له هغه سر نوشت نه ځان بچ کول پکار دي، چې ددوی د وتلو ابرومندانه لاره لکه د روسانو د هغې په پکې ځېر کنډوکپره ده.
اوس سپينه مانۍ په خپله ستراتيژۍ کې ځينې نوي بدلونونه په پام کې لري، چې څه يې د سيمې په کچه او څه يې په مشخصه توګه د افغانستان په کچه ترسره کيږي.

۱ ـ امريکا غواړي د ځينو خاصو هدفونو لپاره افغانستان تجزيه کړي:
د ۱۳۸۶ کال په غبرګولي کې په قرغزستان کې د امريکا سفير، چې ترهغې وړاندې په افغانستان کې سفير و، وويل که د افغانستان وضعيت کنټرول نشي هغه هېواد به له تجزيې سره مخامخ شي. د رونالد نيومن دا خبره په اصل کې د ذهنيتونو معلومولو سروې وه خو له اره امريکا په سيمه کې د جغرافيايي بدلونو لويه نقشه په ۱۹۸۲ کال کې د پنټګان له لوري اعلان کړې وه. په هغه نقشه کې هند، عراق، پاکستان، افغانستان، ايران او څو نور هېوادونه په سني شعيه، کوردي او بلوڅ قومي مذهبي کرښو سره جلا کېدل. د ۲۰۱۰ کال په دوبي کې، چې د ترهګرۍ جګړه بل پړاو ته دننه شوه، امريکا بيا هم د افغانستان د تجزيې د ملاتړ او نه ملاتړ ارزونه وکړه. دا ځل د بلک وېل، (چې پخوا په هند کې دامريکا سفير و) خبره د امريکايي ولس د نظرونو د سروې لپاره وشوه. ده امريکايان ووېرول، چې د امريکا لپاره د ستراتيژيکې ماتې تر ټولو ښه بديل د افغانستان تجزيه ده. يعنې خامخا امريکا له ماتې سره مخامخ شوې خو يوه د راوتلو لاره لري.
د امريکا د لويو پرېکړو سياست دادی، چې خپل نوي پلانونه لومړی د رسنيو له لارې د اټکلونو په توګه او بيا د متقاعدو مامورينو په خوله وړاندې کوي او غبرګونونه يې د پلان د تطبيق تر ټولو غوره کړنلاره جوړېږي.
په افغانستان کې امريکا ځينې داسې ملاتړي روزلي، چې د تجزيې د تطبيق چارې اسانه کړي، دوی د محرومو سياستوالو په توګه د يوګوسلاويا د تجربو تکرار او يا هم د فدراليزم غوښتنه کوي. دغه راز امريکا د خپلو يادو افغاني ايجنټانو په وسيله په پارلمان کې د واليانو د خودمختارۍ طرحه تاييد کړه، چې په دې توګه هم د مرکزي حکومت نفوذ له منځه لاړ شي او هم له ولايتونو سره د امريکا اړيکې مستقيمې وي. تر ډېره دغه راز واليان د کرزي له حکومت څخه باغيان دي.
د تجزيې د طرحې لومړنی پړاو ډېر ساده پيلېږي، په افغانستان کې او په امريکا کې خلکو ته ويل کيږي، چې مرکزي او شمالي افغانستان به د بيارغونې او پرمختيايي پروژو له اړخه ښه سمبال شي او په تدريجي توګه به په جنوب کې طالبان په نښه شي. دغه ستراتيژي به ولس د طالبانو پر وړاندې راپاڅوي او امريکا به يوازې په جنوب کې جګړې ته اړتيا ولري او شمال به خوندي شي. اصلا ترهندوکش پورې غاړه د امريکا پاتې کېدل به تريو وخته د ثبات د ټينګښت په پلمه وي خو وروستی هدف منځنۍ اسيا ته په نوې دړه ورسپرېدل دي. دلته دکسپين قبضه، د چين کلابندي او د مړه روس ترهول پکې اصلي موخې دي. ددې پروژې له پيل سره به پخواني جنګسالاران، د افغانستان د تجزيې پلويان او په شمال کې واکمنه د نظار شورا له خپلو پخوانيو دوستانو سره په نويو بديو واوړي او ښايي روسي او ايراني استخبارات ډېر داسې اسناد خپاره کړي، چې يادو هېوادونو ته ددوی پخوانۍ جاسوسي رسوا کوي.

۲ ـ امريکا په پام کې لري خپله ډېره ګران بيه جګړه د يوې بې دسپلينه نازولې اردو پرځای د څلورسوه ميلونو ډالرو په قيمت څو قاتلو جنګسالارانو ته په ټيکه ورکړي، چې طالبان وځپي. ددغې جګړې مرستندوی اړخ به د بلک واټر په څېر يو شخصي امنيتي ځواک وي، چې هېڅ ته د سرغړونو او انسان وژنې په ځواب ورکولو ځان مکلف ونه ګڼي او نه امريکا ته د بشري ناورين د پړې ګوته ونيول شي. دغه جنګسالاران به ټول غير پښتانه نه وي، کېدای شي ځينې هغه قوماندانان او د امنيتي کمپنيو خاوندان هم طالب ضد ټلوالې ته پنا يوسي، چې همدا مهال له حکومت سره د واک پرسر جوړه نلري او يا لاهم شخصي ملېشې ساتي. په وروستيو کې ددغه ډول کسانو سره امريکا د خپلو اړيکو په سرکې په اروزګان ولايت کې د مطيع الله خان نوم ياد کړی، چې يوه خطرناکه شخصي اردو لري او د امنيتي کمپنۍ په نامه د امريکا په پيسو په جنوب کې د طالبانو پرضد جنګيږي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ترټولو وېرونکې خبره داده، چې په جنوب کې به د جنګسالارانو نوې جګړه د پښتنو د جېنوسايډ اصلي پروژه وي.

۳ – امريکاپه افغانستان کې د خپل اصلي هدف د بايللو له وېرې يوې نوې جګړې ته غېږ ورکوي. له اوږده جنګ وروسته هم امريکا نه ده توانېدلې، چې له افغان حکومت څخه د قيمتي توکو د کوم کان قرار داد ترلاسه کړي. همدا مهال د افغانستان په طبيعي زېرمو د چين په څېر هېوادونو ولکه د امريکا په سترګو کې لکه اغزي داسې غړېږي. امريکا غواړي له طالبانو سره د ښکېلتيا په مټ په هغو طبيعي زېرمو ناقانونه تسلط پيداکړي، چې همدا اوس يې له ګڼو نړيوالو غېر امريکايي کمپنيو سره د استخراج په اړه تړونونه د امضا په درشل کې دي.
په يوه لويه برخه کې د افغانستان په کانونو د امريکا قبضه او د تجزيې طرحه سره تړلي دي. د افغانستان په جنوب او لوديځ کې دکانونو شتون کومه نوې خبره نده، خو امريکا ځکه تازه مهال دا موضوع په فني ډول توده کړې، چې وښيي د شمال په نسبت په پکتيا، هلمند، غزني، کندهار او باميانو کې د يورانيمو، لېتيومو، سرو زرو ، اوسپنې او مسو کانونه ډېر زيات دي. ددوی په باور دغه تبليغات به د تجزيې په اړه په پښتون مېشتو سيمو کې حساسيتونه ځکه راکم کړي، چې د افغانستان اقتصادي راتلونکې يوازې د شمال په غازو او نفتو پورې تړلې نه ده بلکې هره سيمه لويې معدني زېرمې لري.

۴ - امريکا غواړي خپل اروپايي ملاتړي ورو په ورو په افغانستان کې ځنډې ته کړي او له نا اتکله رقابت نه ځان بېغمه کړي. امريکايي سياست وال پوهېږي، چې د افغانستان د جګړې د ناکامۍ تبليغول ډېری اروپايان لکه هالنډيان ترهولای شي او کېدای شي يو پربل پسې ميدان پرېږدي. واقعيت دادی، چې د ډيموکراسۍ تر راوستو او د ترهګرۍ ترځپلو اخوا ډېر داسې هدفونه وو، چې اروپايانو له امريکايانوسره په ګډه هغه خواته ځغاستل، خو اوس چې امريکا ځان پالنه کوي، اروپايان د جګړې ترګټلو د خپلو نظامونو ژغورل غوره ګڼي.
د نړيوالې ټلوالې او ژمنو له ماتولو امريکا دوې ګټې اخلي يو دا چې د ځمکې لاندې زېرمو په سر سودا يوازې وکړي او له بله اړخه په سياست کې هم د ځان سيال ونه ويني. که نور اروپايان د هالنډيانو په پله پل ږدي دا د امريکا لپاره ښه زېری دی، ځکه چې ناټو غونډې يو مظبوط نظامي تړون له اروپايي دايرې د باندې په خپل لومړني ماموريت کې شکست خوري او له بله اړخه د امريکا اقتصادي دريځ پياوړی کېږي. دغه راز په اقتصادي ډګر کې د امريکا لوی هدف دادی، چې د چين ګټې وننګوي او د ګوادر او قراقرم په څېر سو داګريز بندرونه او لارې ماتې کړي.

۵ - له دې ټولو هدفونو او په تګلارو کې له بدلونونو سره سره امريکا غواړي خپل ډيپلوماتيک مزاج معتدل وساتي. امريکا غواړي د لاسپوڅي حکومت په نامه د منځلارو افغانانو يو کمزوری ټيم په کابل کې په واک کې پاتې شي. خو د حکومت او مخالف لوري د قدرت يو تناسب به هرومرو موجود وي، چې نه حکومت له کابل د باندې تسلط ولري او نه مخالفين د چريکي جګړو له حدودو د باندې ښکاره شي.
ددې ټولو ناخوالو سره کوم دريځ چې ولسمشر کرزی يې د افغانستان لپاره په تازه مهال کې ښه بولي ايران، ای اس ای ، چين او په ګاونډ کې د فارسي ژبې مثلث په پښو کې ځان اچول دي، چې په ډېر کمزوري سياست د تاکتيک په توګه نه بلکې د دښمنۍ په دود غوره کېږي او امريکا نشي زغملای، چې کرزی دې د پېړۍ په ترټولو جنجالي کال دوه زره لسم کې ددوی د سترګو پر وړاندې د احمدي نژاد خبرو ته لاسونه وپړکوي.
له کوم څه نه چې وېره پکار ده دادي، چې افغانستان د ګټو د ټکر په محور بدل نشي او له بده مرغه دغسې يو حالت ته هېواد د ورلوېدو په پوله ولاړ دی. پښتانه په بې ګټې اکثريت بدل شوي دي. په هېڅ پرېکړه کې ددوی زور معلوم نشو. دا ځکه چې لاهم د قوي زعامت په رامنځ ته کولو ندي توانېدلي. پښتانه که څه هم تجزيه نه غواړي خو په پرېکړو نفوذ نلري. که دلته يو قوي زعامت موجود وای، د يو پياوړي اکثريت په توګه به امريکا هم ددوی په پرېکړو او نظر تکيه کولای. اوس پکار ده چې کرزی له امريکا او نړيوالې ټولنې سره د مخالفت او دښمنۍ پرځای د شريکې ژبې او شريک دريځ رامنځ ته کولو هڅه وکړي. ځکه زموږ د بخيلو ګاونډيو نيت هېڅکله افغانستان ته د خپلې يوې صوبې او ايالت تر جوړېدو ها خوا ندی. ايران د لوی فارس په خوبونو کې کله افغانستان د خپل مثلث يوه ضلعه ګڼي اوکله بله. پاکستان اراده لري افغانستان يوار بيا د بنسټ پالنې په توره ووهي او په دغه هېواد کې د خپل نفوذ څرګندولو په زور هندوستان وګواښي. هندوستان د پاکستان بربنډ نفوذ ته د خير په غونډۍ نه کښېني او خامخا به په جنګسالارانو تکيه کوي، چې دا پخپله د افغانستان د تجزيې ملاتړ دی. د چين او روس خاموشي او ګونګ دريځونه هم په دې مانا ندي، چې ګويا په دې خاوره کې دې خپل سياسي، اقتصادي او جغرافيايي روابط د سيالې امريکا د سرخيرات کړي.د افغانستان تاريخ د امپراتوريو له هډوکو ډک دی. انګرېزانو د خپلې ماتې پټولو لپاره د پښتانه ولس په وجود داسې ټپ جوړ کړ، چې ترننه ولس ترې کړېږي خو انګرېز امپراتورۍ هم روغه سته يونوړه. پخوانی شوروي اتحاد، چې د يرغل پرمهال په افغانستان کې له کړاوونو سره مخ شو، د افغان ولس د بېلتون لاره يې غوره کړه، لا خبره د خبرې په حد کې وه، چې شوروي ځواک دړې وړې شو. ښايي امريکايانو ته د روسانو مشوره


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

همداوي، چې له خوبه خياله راپاڅئ! دا افغانستان دی، حالات يې بېل دي او د انسانانو طبيعت يې بېل دی. د بېل کړه ايل کړه فلسفه پکې ناکامه شوې ده. امريکا ته نه ښايي، چې د افغانستان په طبيعي زېرمو کې خپل ټول ارمانونه خښ کړي. دلته د ترهګرۍ جګړه په پرده کې پای ته رسول او روغ ګرېوانونه ستنېدل پکار دي. دا ميدان نه په تجزيه ګټل کېږي او نه په لارې بدلولو. د لارې بېلولو او جنګ پر جنګ ګټلو پرځای د ګډې همکارۍ اړتيا ده، چې هم نړۍ خوندي وي او هم يوار بيا افغانستان د ټولې نړۍ لپاره د تهديد پر ځاله بدل نشي. دواړه اړخونه بايد خپلې تېروتنې ومني. نه دامريکا په ستراتيژۍ کې د خواخوږۍ څه و او نه د افغان دولت په عمل کې صداقت. د لارو جلا کولو پرځای په يوه شريکه نوې لاره فکر کول پکاردي، چې هم مغروره امريکا ژغورلې وي، هم بېوزله افغان ولس. ګني لويې کندې ته ددواړو د لوېدو امکان دی.

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ